# افغانستان ته د لومړي انګریزسفر

## د یون لیک خلاصه او تحلیل

صفیه حلیم

جنوري ۲۰۱۳ م

## پیژندنه

جورج فوسټر په ۱۷۸۰ م کې د ختیځ هند یا ایسټ انډیا کمپنۍ یو ملازم و چې د خپل حکومت لپاره ورته د هند، افغانستان، پارس او د روس په اړه معلوماتو د راټولولو دنده سپارل شوې وه.
ده د اتلسمې پیړۍ په ورستیو کې د کلکتې نه یو اوږد او خطرناکه سفروکړو چې هغه وخت په افغانستان کې تیمور شاه واکمن و.
دې د هغو لومړیو کسانونه وچې هغه وخت لرې پرتو سیمو ته ورغلي اومعلومات یې راټول کړل. جورج فوسټر د هند د روهیلکهنډ لیدو نه وروستو کشمیر ته ولاړو. له هغه ځایه د اباسین سره سره یې سفر وکړو.
دپېښور نه د یوې قافلې سره کابل ، کندهار، هرات او مشهد ته ولاړو او بیا د اذر بایجان نه په سمندري بیړۍ کې وړاندې ولاړو.
په افغانستان کې ورته ډېرې ستونزې پیدا شوې چې غلا، وهل ټکول، د خلکو له خوا ترټل او ښکنځلې، ولوږه تنده ، ساړه او ګرمي ټول یې ډېر په صبر وزغمل. فوسټرپخپل سفر کې هر هغه څه چې لیدل او یا ورسره پیښیدل په یو لیک کې ولیکل او خپل مشراو په هند کې د انګریز لوی استاځي ، نواب ( ارل) کارنوالس چې په کلکتې کې و، ورواستول.
دا عادي لیکونه نه دي او هر یو لیک یې د اتیاو نه ترسلو پاڼواوږد دې. د بیلګې په توګه دیارلسم لیک یې ۸۹ چاپ شوې مخونه دي. د ده لومړې لیک په ۳۱ اګست ۱۷۸۲ م کې ولیکل شو.

د ده ژبه د نولسمې پېړۍ انگريزي ده چې ځيني توري هغه وخت بل شان
ليکل کيده. د ځينو توروهغه مانا نه ده چې اوس يې رواج دې او تر
ټولومهمه دا چې د هغه وخت ځيني الفاظ اوس نه کارول کيږي. بيا هم
ليکنه روانه ده او ولوستل يې ستونزمن کارنه دې.
جورج فوسټرکله چې د يو کس يا د ځاې نوم د خلکو نه اوري، ليکي. د دې
له کبله د ځينو نومونو تلفظ يې اړولي دې او يا يې غلط ليکلي دي. د هرې
ورځې کيسه يې د نيټې سره ليکلې ده خو کله کله ښاي د مسودې ټايپ
کوونکي او يا ده پخپله نيټه غلطه کړې وي. ښه والې يې دا دې چې په بل
ځاې کې يې دا نيټه سمه ليکلې ده.
جورج فوسټر کله چې بيرته کلکتې ته راغلو نو د هندوانو د رواجونو اود
مذهبي افسانو په اړه يې وليکل.
د ده د سفرونولومړي ټولگه په ۱۷۹۰ م کې په کلکتې کې چاپ شوه. دوه
کاله وروستو دې د انگريزانو د استاځې په توگه مرهټو ته وروا‌ستول شو او
په ناگپور کې په ۱۷۹۲ م کې پخپل مرگ مړشو. د ده ليکنې پس مرگي
راټولې شوې او په ۱۷۹۸ م کې په دوو ټوکود سريزې سره چاپ شول چې
په راتلونکي کې نورو انگريزانو ته چې دې سيمو ته سفرکو، لارښود شي.
د کتاب نوم و، " د بنگال نه انگلستان ته يو سفر. د هند د شمالي برخو،
کشمير، افغانستان، پارس او روس ته د کيسپين بحيرې په لار.
جورج فوسټر د محترم ختيځ هندي شرکت په ملکي ملازمت کې دې. په
ددو ټوکو کې ( دا دويم ټوک دې)
په لندن کې د باند سټريټ د آر. فالډر لپاره په ۱۷۹۸ م کې چاپ شو."

## سفر

جورج فوسترپه ۱۷۸۳ م د جولاې په مياشت کې د کشميرنه اباسين
پرغاړه گدون امازو ته ورسيدو. د ده سره مل محب الله نومېدو چې
پيښورسره نږدې د يو کلي اوسېدونکې و. د سيند د اوبو په کيڼ لاس وړو
کليو پکهلي، شادي خان، کوټلي، نعمت سراې، حيدر بنگي نه په تېريدو

اخرد اټک سره نږدې نيلاب کې اباسين نه پورې ولاړو. دې ليکي، "په دې ټوله سيمه کې افغانان اوسيږي چې د هند خلک ورته "پټانان" واي. دوي هرڅاې د ختو کلاګانې جوړې کړې وې او ټوله سيمه له دوي په لړزان ده."
په ۱۱ نيټه دې اکوړي او په ۱۲ پيرپاي کې و. هلته يوه دسته افغان عسکريې وليدل چې په هغه سيمه کې يې وېره خپره کړې وه او واي د دوي ځاروي هرځاې چې غواړي څريږي. په ۱۳ محب الله خېل کلي " کلاله" ته بوتلو. هلته ټول کلالان اوسيدل چې خچرې ( يابو) ورسره و.
جورج په ۱۴نيټه پېښور ته ورسېدو. ليکي" دا ښار د کال اوو لکه روپۍ حاصل لري او د يوافغان افسر له خوا اداره کيږي. پېښوراکبرباچا جوړکړې و او د تجارت لپاره له هرې خوا نه يې پکې پنجابيان اوهندوان مېشت کړي و. اوس د هغو خلکو اولادونه پکې اوسيږي. د ښارخلک ډېرشته من دي او د شالونو د تجارت لپاره نوم لري. دوي د کشميرنه نيغ دلته راځي او پنجاب ته نه ځي. دلته د يهودانو محلت هم شته چې دوي ډېر په ارام پکې اوسيږي او خوشاله دي. د دې ښارد خلکو صحت ډېر ښه دې اود نورو ځايونو په څېر وبا پکې نه خپريږي. د پسه غوښه يې خونده وره وي. خو دومره ډېرتجاران ورته راځي او يو کاروان سراې هم پکې نشته."
داسې ښکاري چې د جورج سره مله په پېښورکې دومره بلد نه و ځکه دلته هغه وخت سرايونه و. د بالا حصار مخې ته هغه ځاې چې اوس پکې د جينکو کالج دې، هغه وخت يو لوې ميدان و. په دې کې به قافلې ايساريدې او ورسره جوخت د ساربانانو استوګنځايونه يې لرل. د مساپرو لپاره د ښار د ديوال نه دننه سرايونه و او د چوک يادګار شاوخوا مساپر خانې وې. د پېښور نامتو سراې " جهان سراې" نومېدو چې د اوسني لاهوري دروازې سره د مغل شاه جهان لور جهان ارا جوړ کړې و.
فوسترد ښار نه بهر په يو زوړ جومات کې ايسار شو. د جولاي په مياشت کې پېښور سخت تود وي او ښاي چې تر هغې ده پريږجامې اغوستې وې اوله وېرې يې دا نه ليرې کولې ځکه په کمربند کې يې د سرو زرو سيکې او د " حوالې" اسناد و. ده په کشمير کې د ۵۰۰ روپو حواله ځان سره د کابل لپاره اخستې وه . هغه يې په کمربند کې تړلې وه او د خولو د لاسه دومره لمده شوه چې وربانډې ليکل نه ولوستل کيده. دا د هغې ورځې "

ټریولر چیک" و چې مساپرو به  له ځان سره وړلو.  سیسټم داسې و چې یو تجار به تا نه پیسې واخستې، د هغې رسید د حوالې په شکل به یې درکړو او په ټاکلې ځاې کې به دې د بل تجار نه د دې حوالې په بدل کې پیسې واخستې.
جورج فوسټر په پېښور کې خبرشو چې یوه  قافله کابل ته د تلو لپاره تیاره وه.  سمدلاسه یې  خچر په کرایه واخستو او تهکال ته ولاړو چې اوس هم هغه ځاې " تمبوان" نومېږي.  هلته قافله تیاره نه وه او څو سپاره په بل سهار وختې روانیدل.  جورج د هغوې تکړه اسونه ولیدل نو د خپل یابو په اړه بې باوره شو.  بېرته پېښور ته وګرځیدو او هلته یې یو کس مخې ته راغلو چې د مظفر اباد ( کشمیر) نه ترعنایت سراې پورې په سفرکې ورسره ملګرې شوې و.
دا کس چې نورمحمد نومېدو، اس او خدمت ګار ورسره و او کابل ته روان و.  د لارې د خرڅ لپاره هغه یوه روپۍ لرله.  جورج لیکي، " مونږ دواړو کابل پورې د ملګرتیا فیصله وکړه.  خو فکرمې وکړو چې دې به ټوله لاره ما نه پیسې غواړي.  هغه ته مې ووېل چې زه درې روپۍ لرم."
د پېښور نه کابل پورې په لاره دیارلس یاڅوارلس ورځې تېریدې.  جورج خپلې درې روپۍ هغه ته د لارې د خرڅ لپاره ورکړې او ښاې اندیښمن و چې هغه ترېنه وو نه تښتي.  واې، " نور محمد راته  ډاډ راکړو چې مسلمان چرې هم خپل ملګرې یواځې نه پرېږدي."
په بل سهار وختې قافله کابل ته روانه شوه چې پکې د  تېمور شاه لپاره د کشمیرباج  د شالونو په شکل کې وړل کیدو.  د قافلې هر کس به ځان له د خواړو انتظام پخپله کوو او دوې د دریو ورځو خوراکې توکې په خچرو بارکړل.  په قافله کې به اوښان، اسونه، خچر او څاروې په یو ترتیب کې تلل.  د قافلې مشر " قافله باشې " بلل کیدو او د ټولو نه وړاندې به روان و. ده به خپل څو محافظان او نورخدمتګاران لرل چې دندې یې معلومې وې. کله چې په قافله کې د باچا یا د حکومت خزانه یا داسې نورسوغاتونه وړل کېده  نو د سرکارې پوځ یوه دسته به ورسره تله.
په بله ورځ دوې " تمرود " تهورسېدل.  دلته د تیمورشاه خلک  مېشت و.
 څرګنده نه ده چې فوسټرد باچا کورنۍ یادوې او که پوځ؟  پخوا د جمرود نه وړاندې ښاې یو کلې د تمرود په نوم هم و.

فوسټرلیکي، " زمونږ په قافله کې د باچا لپاره، د کشمیر د والي له خوا د تبت ځلورسپي هم و. د دوي لپاره ځانګړې تذکرې (د لرګي چوپان) وې او په لاره ډېرپام پرې کېدو. په جم (جمرود) کې د سپو یوساتونکي دوي یو تالاو ته یوړل چې ښځو به ترینه اوبه وړلې( ګودر) هغه وخت یوې ښځې په منګي کې اوبه ډکولې او چې سپي یې ولیدل نو په تیږو یې وویشتل. دا په ښکنځلو سر شوه چې سپي به اوبه پلیتې کړي. هغه سړي ته یې ګواښ وکړو چې اوس به ورپېښې د کلي ټول خلک راوباسي. د سپو ساتونکې په وېره بېرته قافلې ته راغلو او باشي ته یې ووېل چې تر څو ورسره عسکر نه وي، هغه تالاب ته نه ځي."
۲۷ جولاي-
په ډکه کې چې فوسټر ورته "ډیکه" وایي، قافله تم شوه او د ټولو خلکو نه یې د تیمور شاه په نوم پېسې (محصول) راټولې کړې. دا پېسې د هغه ځاې نه د خوندي تېرېدو لپاره وې. فوسټر واي چې د خېبر خلک دپېښور د حکومت نه هم د دې لارې لپاره د کال پېسې اخلي او د باچا د
څوعسکرونه علاوه نورو ټولو پیسې ورکړې.
د خېبر دره- جورج د" هایبرپاس" په نوم یادوي. هلته په رسېدو دېرش سپاره د قافلې نه وړاندې ولاړل اوغوښتل یې چې له دې سیمې ژر ووځي. جورج اود ده مله هم هغو سپارو سره یو ځاې شول. لا ډېر مزل یې نه وو کړې چې په لاره ورباندې څو تنه قبایل پېښ شول او دوي نه یې پیسې وغوښتې. چا ورته ووېل چې پېسې یې شا ته قافله باشي ته ورکړې وې. هغوي ورته په قهر شول او وهل ټکول یې پیل کړل. فوسټر یې هم ووهلو او دې واي چې خېبریان " فري بوټرز" ( شوکمار) دي.
د خېبر لاره تل د اپریدو او د شینوارو په لاس کې وه او په هغو ورځو کې د شوکو له وېرې، بهرني تجاران به کله کله د پنجاب نه د بولان درې په لاره کندهار او بیا کابل ته تلل چې یوه نیمه میاشت به یې په لاره تېروو.
۲۸ جولاي-
قافله "بېسولي" ته ورسیده چې اوس باسول نومېږي. هلته یې شپه وکړه اوجورج ټوله شپه په سیند کې دغورځیدونکو تیږوغږ.اوریدو. پیشمني محال قافله باشي خپله میرمنه سیند ته ورواستوله چې د سړونه وړاندې ځان د سیند په اوبوکې ووینځي. هغه ښځه په اوبو کې لاهو شوه او ټول خلک هیښ پاتې و. د هغې مېړه ژړل اوسهار د ښځې مړې په ختو کې لړلې

وموندل شوچې هم هلته يې جنازه وشوه.  وروستو د قافلې خلک په ډلو کې له هغه سيند پورې ووتل.
جلال اباد ته په رسيدو فوسټر بازار ته ولاړو او واي چې هلته په هر دکان کې ګوړه خرڅيده.  په بله ورځ د بالا باغ کلي نه تېر شول چې د جلال اباد نه اته کاوس ليرې وه.  جورج تراوسه د لارې د کچ لپاره د هندي " کاوس" تورې کارولو.  يو کاوس څه د پاسه دوه ميله و.  په بل ماځيګر دوي په ګندمک کلې کې ايسار شول او فوسټر ليکي، " دلته يوه سپينه تيږه ايښې وه چې د يو پيل (هاتي) د سرمشابه وه او " سنګ سفيدک"نومېږي.
 د اګست په لومړۍ نيټه  قافله د "براکاو" د دشتې نه تېره شوه چې زمکه يې ډېره شګلنه وه.  ماځيګرمحال هغه خلک چې تکړه د څغاستې اسونه يې لرل،  له دوي وړاندې ولاړل.  فوسټرجګدلک د " جګيدعلي" په نوم يادوي چې په بله ورځ ورتهورسېدل او واي چې هلته يوکوراو څو ونې وې.
نورمحمد اوس له ده بېل روان و څکه د لارې خرڅ خلاص شوې و. يو ځاې په غونډۍ د ختلو پروخت د فوسټرد يابو پړي وشليدل او دې راپرېوتو خود قافلې يو کس هم  ورته ايسار نشو او نه يې ورسره مرسته کوله.  دې وېرېدو چې شا ته به پاتې شي نو په نورمحمد يې غږ وکړو. هغه ورته په سپکو سپورو سرشو، خوبيا ايسارشو چې دې ځان سمبال کړي او ترڅو چې دې بيا په يابو سپرېدو، د قافلې نورخلک ترې وړاندې تللي و.

## کابل

فوسټر په ۱۷۸۳ م  د اګست په  دوېمه نېټه ماښام کابل ته ورسيدو. هلته ده يو ګورجي (جورجيا اوسيدونکې) په لټون شو چې د کشمير نه يې د ده د ملګري له خوا يو ليک ورته راوړې و.  ده  ورته خپل ځان د يوهسپانوي په توګه معرفي کړې و.  ګورجستاني " بګداسير" نومېدو، په اصل کې ارميني او د شلو کالو نه په کابل کې مېشت و.  دې په  يو کاروان سراې کې اوسيدو، د خپل استوګنځې نيمه برخه يې فوسټر ته ورکړه او د ډوډۍ اونورو چارو کې يې ورسره مرسته وکړه.
هغه يابو چې فوسټر په  پېښور کې کرايه کړې و، خاوند يې يو شپاړس کلن ځوان و.  ده  ته يې د يابو لپاره نيمې پيسې په  پېښور کې ورکړې وې او اوس يوه روپۍ يې پاتې وه.  دا  يې ورله ورکړه نوهلک  شور جوړ کړو

چې هغه روپۍ ناچله (بدل) وه، بیا یې ګواښ وکړو چې قاضي ته به ولاړشي او ورته به ووای چې تر هغې یې یوه پیسه هم ورله نه وه ورکړې. فوسټر په وېره شو او نږدې وه چې ځان خلاصولو لپاره یې یابو وال ته نورې پیسې ورکړې وې خو ګورجستاني هلک تهدووېل چې ورشه د قاضي نه امر راوړه. بیا ورسره پخپله محکمې ته ولاړو نو هلته د قاضي په وړاندې یابووال قسم وخوړو چې مساپر ته یې نیمې پیسې پاتې وې. دا پیسې ګورجستاني هم هغلته ورله ورکړې. هغه حواله چې فوسټر د کشمیرنه راوړې وه، په کابل کې هیچا د دې لیک نه شو ولوستلې ځکه رنګ یې خراب شوې و.
په کابل کې فوسټر ولیدل چې مسیحیانو، هندوانو او یهودانو د خپل دین تبلیغ په ډاګه کوو. وای چې دا ښار په یو نیم میل زمکه کې جوړ او چاپیره یې دېوال دې. کابل د هغو دوو غرونو په ختیځ کې دې چې د نیمې دایرې په شکل کې ترې راتاو دي.
د کابل کورونه د نا تراشل شویو تیږو او د ختو نه جوړېږي او په ځینو کې خامې خښتې هم کارېدلي دي. فوسټر لیکي، " د بهرنه دا ښار ډېر بې وزله ښکاري او څنګه چې مې د دې لوې افغان سلطنت په اړه اوریدلي و، هغسې شان نه لري. افغانان بې ادبه او بې سیواده خلک دي. د دوي مشران د ژوند د ښکلیو شیانو سره رغبت نه لري او د دوي په ملک کې داسې د افتخار وړ څه نشته چې دوي ترې ګټه واخلي."
فوسټر په لاره ولیدل چې د اباسین نه ترکابل پورې د لرګو کمې و. وای چې د ټیټې طبقې خلک د سون مواد نه لري اوپه تېره بیا په شمالي سیمو کې یې ډېره اړتیا ده. دا هغه وخت و چې د افغانستان ځنګلونه به نه وهل کېده او د ډبروسکاره هم نه کارېدلو.
د کابل د بالا حصار په اړه وای چې دا ډېره ساده جوړه ده او چاپېره یې خندق دې. دا د تیمورشاه مانۍ ده خو د ده د عظمت یوه معمولي نښه ده چې پکې د ده ملازمان، محافظان او مرئیان اوسېږي.
د کابل د ښایسته کولو لپاره د مغلو یو امیر علي مردان د ښار په مرکزکې څلور لوې بازارونه جوړ کړل چې په یولیکه کې دي. د دې بازار دواړو غاړو ته دوه پوړیزه کورونه دي . ښکته تجاران خپل مال خرڅوي اوبره د دوي کورنۍ اوسېږي. د ټولو بازارونو په منځ کې یو محرابي چت دې او د هربازار مخې ته یو میدان دې چې پکې د اوبو فوارې جوړې دي. اوس په

دې فوارو کې مرداري راټوله ده او د ټيټې طبقې کسب ګر پکې ناست وي.

فوستر د علي مردان له خوا جوړشوي نورځايونه هم په ګوته کوي. په نيمله کې د علي مردان باغ ( اوس د نيملې باغ نومېږي) په پېښورکې علي مردان باغ ( اوس پرې د پېښورصدرجوړ دې) د ډېلي د اوبو نهرچې د جمنا د سيند نه سل ميله واټن کې د ښاربرخو ته د اوبود رسولو لپاره يې جوړکړې و. هغه وخت هم دا په کنډوالو اوختې و. فوستر واي چې د کابل بازار د هر ډول توکو نه ډک دې اوهرڅه لکه د اروپا ډېر په ترتيب په هټيو کې اېښودل شوي دي. دلته هره ميوه شته چې منه، ناک، شفتالو، انار او انګوردي. د هند توکي ډېر نه ښکاري، چيني ( بورا) اوکتان د پېښورنه راوړي. له دې ځايه اوسپنه، پوستين اوتمبکو پېښور ته ووړي. کندهار ته اوسپنه، پوستين او د څراغونو لپاره تيل ورليږي. دلته د يورپ شيان هم راځي او د پارس خربوزې پکې ډېرې وي. د بخارا نه تاتاري خلک کابل ته د ترکستان اسونه، سمور ( فر) او پوستين راوړي. د ښاروو پوستکې بولګار ( بلغار)نومېږي چې اروپاي ډوله وي. د دې په بدل کې تجاران نيل او د هند نورمال اخلي او خپلو ملکونو ته يې وړي.
د ازبک تاتارو يو هيواد بلخ دې چې تيمورشاه ته نږدې دي او کابل سره اړيکې لري. فوستړليکي، "ما په بازارکې ډېر ازبکان وليدل چې مخونه يې د چين اود ملايا د خلکو په څيرو خو د هغوي پر پرتله دوي وحشي دي. په بهرنيانو کې ډېره شمېره د هندوانو ده چې زيات يې د پېښور نه تللي و. دوي کارګرخلک دي اود کاروبار پوهه لري. د افغانستان باچا د دوي سرپرستي کوي او دوي ډېرخپلواکه اوخوندي ژوند کوي. هغه هندوان چې زمونږ د واک په سيمو کې اوسيږي له هغوي د دې هندوانو حالت ډېر ښه و. د شاه مالي چارې د دې هندوانو نه د يوکس په لاس کې دي چې باچا يې درناوې کوي."
فوستر ته د کابل چاپېره زمکې شنې ښکاره شوې. دا په هغه سيند خړوبيږي چې د ښار په منځ کې بهيږي اويو پل پرې جوړ دې. دې ته "پل مستان" واي. کابل ښار د دوو غونډيو په لمنه کې دې چې لوېديځ او ختيځ ته غزيدلي دي. د ختيځ غونډۍ په لمنه کې په ميدان کې يوه ماڼۍ جوړه ده چې چاپيره يې لوې ديوالونه و. دلته پخوا د ښار ګورنراوسېدو. د تيمورشاه په امر دا ځاې بندي خانه شوه. اوس د هغه ورونه او د شاهي کورنۍ

نورخلک پکې ځان له ساتل کېږي.  په دې ودانۍ کې يوه مناره ده اود هغې سر د غونډۍ څوکې پورې رسېږي.  يو دېوال د دواړو غرونو په سرجوړ دې چې د لويديځې غونډۍ په پاې کې ختميږي.

## تيمورشاه

فوستېر په ۱۷۸۳ م د اوړي په وتلو کابل ته رسېدلې و او هلته په يو کاروان سراې کې يې اړولې و.  هغه وخت د افغانستان واکمن تيمور شاه و.  د ده په اړه يې معلومات راټول کړل او واې چې اوسنې باچا دومره سخت نه دې نوخلک يو څه کاواکه شوي دي.  اميران او سرداران پخپلو سيمو کې واکمن دي او ولس يواځې هغه وخت باچا ته شکايت کوي چې يو خطرورپيښ وي. يا زمکه وال ماليه ورکول نه غواړي.
د زمکو د جاج اخستو نه وروستو ورباندې ماليه ټاکل کېږي او دا په شاهي خزانه کې داخلوي.  د دې لپاره چې خلک يې مخالفت ونکړي نو د ماليې اندازه يې ټيټه ساتلې ده.   د دې ملک پوځ د هريو نسل خلک لري خو تر ټولو تکړه پکې د افغاني سيمو وګړي دي.  کله چې دوي پوځ کې ورداخلوي نو د لږ معاش ژمنه ورسره کيږي، په دې هيله چې دوي به په جنګ کې هسې هم توره کوي او انعام به ورته ورکړې کېږي.
په ښارونو کې د پنجاب هندوان او مسلمانان مېشت وي چې د هند د پخوانيو باچاهانو له خوا په دې هدف مېشت کړې شوي و چې تجارت وده وکړي او په دې لوېديځو صوبو کې هم تمدن راولي.  د تاتار او د پارسي وانو کورنۍ هم هرځاې کې خپاره کړې شوي دي.  مغل هم شته چې پارسي ژبه يې زده کړې ده .
يو ځاې د باچا په اړه ليکي، " په ۱۷۸۰ م کې د تيمورشاه په ژوند په پيښورکې  تېرې وشو او دې کابل ته راوتښتېدو.  له هغه راهيسې دې بيا چرې پېښور ته نه دې تللې."  ښاي فوستېرد يوې رسمي نمانځنې پر وخت تيمور شاه وليدو او واې، " دې شاوخوا د ۴۶ کالو، ونه يې ميانه او چاغ و. هغسې چې افغانان له رنګه سپين وي، دې دومره سپين نه و . د شاهي رتبې

اود مراسمو لپاره دې د تورمخمل يوه لوړه خولۍ ( ټوپۍ) په سروي چې د بره نه څلورګوټيزه وي."
فوسټرد ښارخلکو نه هم د افغانستان په اړه معلومات اخستل او ترهغې چې د احمد شاه د وختونو خلک ژوندي و، ترېنه يې د هغه وخت خبرې هم اخستې. واي د احمد شاه د واک پر وخت د حکومت حاصل (عايد) ۳ ميلينه پونډه و او هغه يو لک سپاره پوځ لرلو. اوس تيمورشاه د ديرشو زرو نه زيات پوځ نه لري اوعايد يې ممکن يو ميلين پونډ وي.
دې ليکي، " د افغان پوځ لويه برخه د سپارو ده. د پلي عسکرو دسته هم لري چې ټوپکې ورسره وي. په کابل کې يو اس په پينځو يا شپږو پونډو خرڅيږي. د تيمورشاه ورونو د ده پرضد غږ وويستواو د ده يو ورور چې سکندر نوميږي بغاوت يې وکړو خو دا بغاوت بې له وينو تويدو پاې ته ورسېدو. ده خپل دوه زامن په کندهار اوهرات کې واکمن کړي دي. په تېرو اوو کالو کې تيمورشاه هيڅ پوځي فعاليت نه دې کړې. د ده حکومت بې انصافه نه دې اونه چا سره ظلم کوي. خپلوانو يې څو وارې د ده پرژوند تېرې کړې دې خو د ده لاسونه د خپلوانو په وينو ككړ نه دي.
د ده په اړه مونږ (انګريز) دومره ويره لرو چې د " ختيځ شهاب" نوم مو ورله ورکړې دې. ځان له پخپله وېرېږو چې يوه ورځ به دې ناڅاپه راپاسي او تر بنګال به هند وونيسي خو داسې نه ده. د ده اصل ځواک د ده د ګاونډيانو کمزوري ده. که سيکان پخپلو کې په جنګ اخته نه وې نو افغانان ډېر په اسانه له ستونې تېرولې شي."
د پښتنو په اړه فوسټر خپل معلومات داسې بيانوي. " افغانان د تاتاري غرونو اوسېدونکي دي . ژبه يې ليکلې نه ده او داسې عجيبه ژبه ده چې پخپله دوي پرې پوهيږي. دوي د يو کلک نسل خلک دي، په خټه کې يې د حملې او د جنګ نشه اخښل شوې ده. له دې کبله د دوي کړه وړه د وحشيانو په څېرښکاري. دوي د تمدن د ورانولو او د زمکو د نيولو خوي لري. زمونږ په ځينو تاريخونو کې ليکلي دي چې د ايشيا په زړه کې د افغانستان خلک د تاتاري قبيلې د يوې څانګې نه دي. خو زه دا وېلو ته مجبور يم چې دوي د تاتاريانو سره هيڅ ورته والې نه لري. نه په ليدو کې، نه په کړو وړو کې، نه په ژبه او نه په ناسته پاسته کې."
وړاندې دې ليکي، " افغانان د غنمواو وربشو ډوډۍ، پۍ، کوچ او پنيرخوري. په ژمي او سفرکې کروت خوري. دوي کوچ او پنير د پسونو

د شودو نه جوړوي چې ښه وي. د دوي ښځې پټې وي خو دومره په سخته پرده نه کوي. هغسې چې د ترکستان، هند او د پارس خلک د حرم د خوندونو ليواله وي، افغانان ترې بې برخې دي. دوي د نورو مسلمانانو په څېرغير فطري (جنسي) عمل غندي او د دې لپاره سخته سزا ورکوي."
فوسټر په افغانستان کې د دومره ډېرو ارميني نژادو د موجوديت په اړه معلومات وکړل او واي چې د پارس په شمال کې د ارمينيانو هغه ښار چې نادرشاه (افشار) نيولې و د هغه ځاې ټول خلک د احمد شاه په وخت افغانستان ته راغلل او اوس په کابل کې اوسيږي. دوي د احمد شاه په "باډي گارډ" دسته کې شامل و . د تيمورشاه سره هم سل قدر له ارمينيان شته خو دوي جنگ ته نه ووځي او د بالا حصارشا وخوا مېشت وي.
په کابل کې فوسټرتبې ونيولو او په څو ورځو کې په وجود يې سرې دانې راوختلې. يو ارميني ورته ووېل چې دې " طاعون" شوې و. په دې خبه په کاروان سراې کې مېشتو نورو خلکو شور وکړو چې دې له سراې وويستل شي.
فوسټر پخپله هغو خلکو ته قناعت ورکړو چې د طاعون تبه درې ورځې وي او دې د اوو ورځو نه تب ژن و. بيا يو ارميني طبيب راغلو او ده ته يې څه دارو ورکړل. فوسټر ترېنه د دارو د توکو او مرکب په اړه پوښتنه وکړه خو طبيب ورته وونهوېل. فوسټرهغه دارو د خوړلو نه ډډه وکړه او د خپل ملگري گورجستاني نه هم په پټه دارو يې وغورځول.
ده ته به ځينې ارمينيان دعا لپاره راتلل او يو کس ورته په کاغذ ليکلې دعا ( تاويز) ورکړه چې د اوبو سره يې وخوري. ده ترې کاغذ واخستو او وې وېل چې د بگداسير په اجازه به يې خوري. بگداسير پخپله ارميني و خوخپل هم نژاده يې بدي شول او زړه نا زړه يې فوسټر ته د هغه تاويز د خوړلواجازه ورکړه، خو فوسټر بيا هم جوړنشو.
شل ورځې وروستو د ده تبه وشلېده خو دې ډېر کمزورې شوې و. کله چې د سفر جوگه شو نو د دوو ارمينيانو سره يې وليدل. دوي دواړه د کېسپين بحيرې يو تاتاري سيمې استرخان نه راغلي و او د بلخ او بخارې د لارې به کابل ته تلل راتلل. هغو ورته بخارا ته د تلودووېل. خو د فوسټر پارسي زده وه او دې خبرو چې په بخارا کې پارسي نه پکارېده. د بخارا ژمې هم اوږد او سوړ و. بله دا چې د کابل نه په هغه لار تر کېسپين بحيرې سفر

په دوو نیمو میاشتو کې کیدو. هم دا وه چې جورج د کندهار او هرات د لارې سفر لپاره یې ځان تیار کړو.

## کابل نه غزني

د پینځو سوو روپو هغه حواله چې فوسټر د کشمیر نه راوړې وه او د ده په خولو لیک وران شوې و، د گورجستان بگداسیر ته یې په نیمه بیه خرڅه کړه. د کابل نه یوه قافله کندهار ته روانیده نو د ده لپاره پکې د تلو انتظام ووشو. بگداسیر ورته وېلي و چې افغانستان کې هیڅوک ستا په دین غرض نه لري او مسیحیان ډېر ازاده گرځي. د ده سامان په یو اوښ وتړل شو او د گرمۍ له کبله قافلو به د شپې سفرکوو نو دوي د اگست په ۲۲ ماښام کال ۱۷۸۳ م د کابل نه روان شول.
د ستمبرپه لومړۍ نېټه دوي د کابل نه ۳ فرسنگ کې "کلا قاضي" ته ورسېدل، یو فرسنگ څلورمیله وي. د شپې د تېرولو لپاره مساپرو ته د لرگو د تختو داسې غرفې ورکړې شوې چې په کاروان سرایونو کې د ویده کیدو لپاره وې. جورج واي چې یوه غرفه دوه فټه او اوو انچه اوږده وه چې یو کس به پکې پښې نشوې غزولې. په لاره ده د قافلې نورو خلکو سره پېژندلي و. فوسټرهغسې چې د پېښور نه تر کابل د هرې ورځې حال وېلو، په دې لاره نږدې درې اوونۍ وروستو د ستمبر په ۲۴ نېټه عظیم اباد ته د رسېدو په اړه لیکي چې د کلا قاضي نه ۵ فرسنگ لیرې و.
د دې سبب ممکن دا وي چې په لاره دوي د هغو کلیو او باندو نه تېرنشول چې د اوسني لوې لارې په سر و.
دې د قافلې په اړه معلومات ورکوي چې د قافله باشي نوم " دوران" و.
ځان یې د تیمورشاه د کورنۍ نه معرفي کوو او په دې ویاړېدو. خبرې یې ډېرې کولې او ورسره یو کشر وروروهم و. د ده پینځه اوښان و چې په دریو تجارتي مال او په دوو مساپر ناست و. په یو اوښ یوه سپین سرې میرمنه د خپلې لور سره ناسته وه چې د لوړې کورنۍ ښکارېده . لوریې ډېره ښکلې وه او دوه ماشومان هم ورسره و. هغې میرمنې په لاره دوران ته دومره بدې ردې ووېلې چې د ده خله یې بنده کړه اوغلې شو.

د قافلې سیستم دا و چې څو کسانو به خپل خوراکي شیان یو ځای پخول او کارونه به وېشلي و. چا به اور بلوو، چا اوبه راوړل او چا پخلې کوو. بیا پخ شوې ډوډۍ به یې په ګډه خوړله. فوسترعیسای (مسیحي) و او نجس ګڼل کیدو. هیچا دې د ځان سره ډوډۍ پخولو یا شریکولو ته نه پرېښودو. ده به ځان له پخپله اوبه او د سون توکي چې خوشای و، راوړل خو اور به یې نشو بلولې او د لوګي د لاسه یې سرټکوو. ځان سره یې بسکټ او چای چیني لرل نو زیات وخت به یې د چایو سره بسکټ وخوړل.
دوران په لاره د قافلې نورو خلکو کې دا خبره خپره کړه چې فوستر یهودي و. خو هغه وخت د ده پلوي هم هغې افغاني میرمنې وکړه چې ماشومان ورسره و. جورج به ماشومانو ته کله بسکټ او کله چیني ورکول نو هغې د ده په پره خلک وترټل. بیا پاتې لاره دوران د هغې میرمنې له وېرې چا جورج ته څه نه وېل.
په ۲۵ستمبر دوي د یوې کلا سره تم شول خو فوستر یې نوم نه دې لیکلی.
په ۲۶ دوي غزني تهورسېدل او وای چې هلته د دې پخوانې ښار د عظمت یوه نښنه هم نه وه پاتې. یو څو کنډوالې، د سیند پرغاړه څو ونې او د میوو باغونه لیدل کیده. دلته د هندوانو کورنیو ژوند کوو او د هغوي له دکانونو د سمیې مسلمانانو خوراکي توکي ووړل. د غزنې د یخ او د واورو په اړه یې له خلکو واورېدل چې دا سیمه یې څو وارې ورانه کړې وه.
په ۲۷ ستمبر دوي " هیرغټ یا هیرګټ" نومې سیمې تهورسېدل چې واړه غرونه یې لرل اوپه دشته کې یو ډول ازغن بوټې اوښانو خوړل. دلته قافله د دوران په امر تم شوې وه چې د زړې میرمنې خوښه نه وه. هغې دوران دومره وترټلو چې ده غوړونه ونیول او دشتې ته وتښتېدو.
په بله ورځ " میرکوټ" کې ایسارشول چې هلته سخت ساړه و. په ۳۰ د " موشیده یا مشاهده" په دشته کې تم شول. فوستر د هغې ځوانې ښځې په اړه وای چې ښکلې وه خو ویښته یې ګنده او ترهغې په ټول سفر کې یې یو وارې هم خپل مخ نه و وینځلی. د اکتوبر په اوله نېټه "تازي" ته ورسېدل. په دویمه کلات (کلات غزني) ته چې پکې یوه کلا جوړه وه. دلته لږه زمکه کرل شوې وه خو نوره دشته وه. په دریمه نیټه تبر اندازي (چارماري) کې تم شول چې د کلات نه ۶ فرسنګ په فاصله کې و په ۴ اکتوبر یو وړوکې کلې چې " پوټې"نومېدوورسېدل. دلته زمکې ښیرازه او خلک پکې ډېر و. دا د کندهار د سړک پرښې غاړه و او د هغې

مېرمنې خپلوان پکې اوسېدل. ټولو د هغې سپین سرې ډېر په درنښت هر کلې وکړو او د قافلې خلکو ته یې هم د شپې لپاره ځاې ورکړو. خو فوسټر واې ما سره داسې چلند کېدو لکه چې زه هلته نه ووم. په پینځمه نیټه دوې په یوې دشتې کې ایسار شول او ورپسې کندهار ته ورسېدل.

## کندهار

د اکتوبر په پینځمه نیټه فوسټر کندهار ته ورسیدو او د ښار د تاریخ په اړه لیکې چې " دا ښار پخوا د یوې غونډۍ د پاسه په یوې کلا کې جوړ و. د پارس باچا نادر شاه د کندهار هغه زړه کلا ویجاړه کړې وه او د غونډۍ نه ښکته د " نادر اباد" په نوم یو ښارجوړول یې پیل کړل چې وروستو احمد شاه ابدالي پورا کړو او اوس کندهارنومېږي.
دا ښارڅلورګوټیزه او په دریو میلو کې جوړدې. دلته ډېر خلک دي او یوغوړیدلي ځاي دې. د هند، پارس او د تاتاریانو په لاره دا یوه مهمه منډۍ ده. په کندهارکې د ملتان هندوان ډېر دي. د راجپوت سیمو خلک هم زیات لیدل کیږي او ټول تجارت او کاروبار د دوي په لاس کې و. د سمرقند اود بخارا هم ډېرتجاران دلته راځي. له دې ځایه هغوي د هند نه راغلې نیل وروړي.
په دې ښارکې هرڅه فراوان دي او د توکو بیه یې ټیټه ده. د اباسین د لوېدیځې غاړې په یوې سیمې کې مې دومره ارزاني نه وه لیدلې. د دې ځاې انګوراو خټکې ډېر ډولونه لري اوخونده ور وي. د اروپاي مېوې سره یې پرتله کولې شي. په کندهار کې هندوان چې په تجارت کې ځومره ګټه کوي نو ښاي دوي ډېرخوشاله ژوند وکړي.
ددې ښارچاپیره د میوو باغونه دي او زمکې کرل شوې وې. دلته د اوبو رودونه دي چې خلک یې په متلونو کې یادوي. د غزني د یخ او د هند د ګرمۍ په منځ کې د دې ځاې یوه معتدله ده. په اروپا کې دا سې نظردې چې کندهارغرنې ملک دې او د الپس په شان غرونه به لري خو دا یوه اشتباه ده. د کندهارنوې ښار په هواره زمکه جوړدې اونورغرونه یې واړه دې. دتیمورشاه یوزوې د ښارحاکم دې چې د کال اتلس لکه روپۍ عاید لري."

فوسټر ته په کابل کې بګداسیر د کندهار د دوو ترکانو په نوم د پېژندګلوۍ لیک ورکړې و. یو کس په بازار کې دکان کوو اوبل اغا احمد په کاروان سراې کې ګودام لرلو. ده د اغا احمد سره ولیدل چې ډېرښه چلند یې ورسره وکړو. فوسټرلیکي چې دې لوړدنګ سړې و خو د افغانانو په شان مغرورنه و. "هغه خپل بل ملګري دکاندار ته زما د وړاندې سفر لپاره د سامان ووېل او ځارنه یې وکړه چې ځوک مې دوکه نه کړي."
که څه هم فوسټر غوښتل چې څو ورځې نور هم په کندهار کې ایسار شي خوژمې نږدې و اویوه قافله تیاره وه نو ده د سفر موزې په پښو کړې. آغا احمد د ده د خوندیتوب لپاره د قافلې مشر سره خبرې وکړې. او د اکتوبر په ۸ نیټه د کندهار د نوي ښار نه ووتلو چې اوس د دې زوړ ښار دې. په ۳ فرسنګ فاصله کې یې یو کلې ولیدو چې ورسره جوخت د غر د پاسه د یو کلا کنډوالې ښکارېدې. په بله ورځ درې فرسنګ کې یو وړوکي کلي چې اشکانه نومېدو، تهورسېدل.
په دې سفر کې هم فوسټرد یو مسیحي په توګه سفر کوو. د اوښ د کیجاوې په یوې خوا فوسټر او بلې خوا ته یو ملا ناست و. د قافلې نورو خلکوملا ته پام نه کوو او نه چا پېژندلو خو فوسټر د ملا ګوتو ته ورغلو. کله چې دوي په "کوبې" کې ایسار شول نو یوعرب خیاط د فوسټر سره ملازم شو چې د ده ډوډۍ پخولو او د اوبو راوړو دندې یې په غاړه وې. ملا هغه ته ګواښ وکړو چې که مسیحي سره یې ډوډۍ وخوړه نو کافر به شي. هغه عرب خوار د ولوږې د لاسه نوکري پریښوده. فوسټر لیکي چې "تر شلو ورځو دا ملا راپسې و او خپل دیني خرافات به یې راته وېل چې ثواب وګټي."
په لسمه نیټه ماښام قافله روانه شوه اوپه ۶ فرسنګ کې " هوره مدت خان" ( حوض مدد خان) ته ورسیده. ښاي مدد خان د قافلو لپاره د اوبو تالاو جوړ کړې وي. په ۶ فرسنګ کې د " خاک چمپارا" دشته وه چې بله ورځ ترې تېر شول. په ۱۴ نیټه ګرشک کلي ته ورسېدل چې په اوو فرسنګ کې و. د کلي چاپېره دیوال تاو و او ورسره د رښو اوبو ویاله بهېده.
په ګرشک کې د ټولو مساپرو نه یې کرایه راټوله کړه اوخلکو خوراکي توکي واخستل چې وړاندې یوه لویه دشته وه. تر هغې د فوسټر د اوښ ګاونډي ملا ترېنه دوېم ملازم هم شړلې و. یو سلماني چې د ده ویښته او ږیره یې جوړول ورته پرې نه ښودو. هغه ته یې ووېل چې په کومې پاکۍ

ده ورله د سر ويښته سم کړي و، هغه پليته شوې وه او بايد پاک کړې يې وې. د هغې پاکول هم څه اوږده پروسه وه او د هغې پېسې يې هم د فوسټر نه واخستې.
دې د ولوږې نه په تنگ شواو دريم ملازم يې ونيولو. دا کس د ملتان يو مسلمان او مشهد ته د زيارت لپاره روان و. د ده په پښو کې نه څپلۍ وې، نه يې سمې جامې لرلې او يوه پيسه هم ورسره نه وه. جورج فوسټر پرې زړه ووسو او گرمې جامې د خواړو سره يې ورله ورکړې خو دې هم ترينه وروستو پاتې شو. بيا يو کشميرې ورسره شو چې ډېر چالاکه و.
هغه د کافر خواړه په خوړلو نه وېرېدو او مالگه يې هم خوړله. فوسټرته دا معلومات شوي و چې د چا مالگه خوړل څه مانا ورکوله. ليکي، "
ايشيايان د مالگې په اړه هم هغسې خبرې کوي لکه چې اروپايان د ډوډۍ په اړه محاورې لري. لکه نمک حرام .
په اوولسمه نېټه دوي په اوو فرسنگ کې " شاه نادر" ته ورسېدل . د اوبو دا تالاو د پارس نادرشاه جوړکړې و چې ۲۰ فټه پلن او هم هغه هومره اوږد و. د تالاو د پاسه په ستنو يو دالان جوړ و چې پکې مساپرو دمه کوله. په اتلسمه نېټه دوي " شوراب" ته ورسېدل چې په ۵ فرسنگ کې کرل شوې زمکه وه خو کلې ورسره نه و. په نولسمه دوي " لونغيره" ( ؟) کې د اوبو لپاره تم شول خو هلته د چينې اوبه دومره کمې وې چې د قافلې خلکو خلاصې کړې.
په شلمه دوي په ۶ فرسنگ کې دلارام کلي ته ورسېدل.د دې ځاې کلا په کنډوالو اوختې وه او د څو ونو نه علاوه نوره ټوله دشته وه. په ۷ فرسنگ کې د بکوا دشته وه چې دوي په ۲۷ نېټه پکې يو وارې تم شول.
داکتوبرپه دويشتمه نېټه قافله " دراز" ( يا درواز) ته ورسيده چې د بکوا نه په ۶ فرسنگ کې يوځاې و او پکې سخته گرمي وه . ټولو د لمرنه پټېدو لپاره تابيا کړې وه، هر هغه څه چې سيورې يې جوړوو ، ورلاندې ناست و. يو ترکمن سيد لمر وهلې او په سخت تکليف کې و. فوسټر واي چې مسلمانانو فکرکوو دې پيريانو نيولې و. په ځاې د دې چې درملنه يې کړې وې رنگا رنگ خبرې يې کولې.
هغه ملا چې فوسټر ترې ډېرپه تکليف و، خپل کرامت ښودلو. وېل يې شيطان ته امرکووم چې دا سړې پرېږده او څه دم يې وپوکلو خوهغې هيڅ اثرونکړو. بيا يې ورته د عربي ژبې تلاوت کوو چې ښاي پخپله هم په مانا

يې نه پوهېدو. اخر فوسټر مداخله وکړه او ليکي، " دې مې د نمرنه سيوري ته کړو، په مخ مې ورته اوبه واچولې اوڅو څاڅکي مې په خله کې وڅڅولې. هغه لږ ښه شو خو بيا يې له خلې داسې غږونه راوتل چې څوک يې په خبره نه پوهېدو. ټول خلک په دې باور شو چې دا د شيطان يا د پيري خبرې دي".
په بله ورځ د ۵ فرسنگ په فاصله دوي "غورماو" ته ورسېدل چې دشته وه. هغه ملا د څو هندو تجارانو سره فيرا (فراه ) ته ولاړو چې د درواز نه ۴۰ يا ۵۰ ميله جنوب لوېديځ کې و. فوسټر د هغه په تلو ډېرخوشاله شو خوواي چې د ده ځاې يو بدتر کس ونيولو او هغه عرب خياط يو وارې بيا راسره مل شو.
دې ليکي، " هغه ملا د تلونه يوه شپه وړاندې خياط ته ووېل چې ما چورکړي ځکه د يو کافر نه غلا کول ثواب لري . خياط هم دا موقع له خداې غوښتله خو زه ورته تيار ووم. هغه څو وارې راباندې لاس واچوو خو نه مې پريښودو".
په ۲۲ نېټه دوي په ۶ فرسنگ کې يو لوې کلي "غيراني" (غيروني) ته ورسېدل چې خلک پکې ډېر و، چاپيره ترې ديوال تاو و او د پاکو اوبو وياله پکې بهېده. دلته ايسار شو چې مساپر د لارې کرايه ورکړي او د راتلونکو دريو ورځو لپاره خواړه په بيه واخلي. وړاندې لويه دشته وه چې له دې ځايه ترخراسان غزيدلې وه.
فوسټرليکي چې، "زما کشميري ملازم په لاره نه ځان وينځلو او نه يې لمونځ کوو. د ده کارونه اوبه راوړل، زما د کافي لپاره اوبه وېشول، ډوډۍ پخول او د اوښ لپاره خواړه برابرول و." خوهغه به ترينه شيان غلا کول. خواړه به يې پټ کړل، جامې او نورشيان به يې غلا کړل. ليکي، " په قافله کې يو هندوستاني مسلمان مشهد ته د زيارت لپاره روان و چې خپله ښځه او ماشوان يې د بنارس په جونپوربنارکې پرېښي و.
په بله ورځ دوي په ۵ فرسنگ کې "خووس" او په ۲۸ اکتوبر "گيموچ" ته ورسېدل چې په دشته کې د قافلو تم ځاې و. په ۲۹ نيټه "وچکال" کې ايسار شول چې د خراسان په حدود کې يو لوې کلې اوچاپيره يې ديوال لرلو. فوسټر ليکي، "دا کلې د پارس يوه برخه ده چې قزلباش ترکان پکې ډېر دي. دوي د خپلوخوليو( ټوپيو) د پاسه د سوررنگ تيکه تړلې وي نو ځکه ورته "سورسرې "يا قزلباش" واي."

دوي دوه ورځې هلته د دمې نه وروستو په ۶ فرسنګ کې "شیربخش" نومې د کاروانونو د دمې ځاې کې و. د نومبر په لومړۍ نیټه " زیارت ګاه" کې ایسار شول چې په اوو فرسنګ کې یو وړوکې کلې واو ښکې هدیره وه. په بله ورځ درې فرسنګ کې دوي هرات ته ورسېدل چې په لیدو یې فوستېرلیکي، " دا یو پراخه سیمه او ښکې واړه سپیره غرونه دي، زمکه یې شګلنه ده. د هرات ښار سره نږدې یو رود او وربانډې واړه پلونه جوړدي. دلته بې شمېره کلي دي چې ښکې ونې او بوټي شته دې. قافله باشي مونږ یو کاروان سراې ته بوتلو چې هلته یواځې مساپرایسارېدل . تجاران به په نورو کاروان سرایونو کې پاتې کیدل.
هلته یوارمیني ته مې د ګورجستان د بګداسیر لیک ور وښودلو. شاه عباس د اصفهان سره نږدې د جولفا نومې ښار دې ارمیني خلکو لپاره جوړکړې و چې ټول ښکې تجاران و. په هرات کې مې ځان پاک کړو، په ښار کې وګرځېدم او یو ځاې مې ویښته جوړکړل. د دې ځاې سلمانیانو په یوې تیږې د اوبو لوښې ایښي وي، د هټۍ څنګ ته یې وړې هنداري، چاقوان او د ږیرو ږمنځې د پلورلو لپاره پراته وي.
هرات د کندهارنه وړوکې ښار دې خو تجارت ښکې ښه کیدو.د دې بازاریوه لویه کوڅه ده چې وربانډې محرابي چت پروت دې او دکانونه یې په یو قطار کې دي. دلته ډوډۍ، وریژې، غوښه، هر ډول میوه، سابه ترکاري ارزان او کیفیت یې ډېر ښه و.
په اوونۍ کې یوه ورځ بازار(منډۍ) لګي. په دې کې دومره ډېرخلک راټول وي چې د شاو خوا سیمو نه یې خپل شیان د خرڅولو لپاره راوړي وي. په دې سیمو کې د وړۍ یوه تیکه جوړیږي چې خلک ترې جامې رغوي او د پارس شمال ته یې ورلیږي. په هر دکان کې د پسه پوستین ځوړند و او دا په ژمي کې د هرې سیمې خلک کاروي.
د خلیج پارس د ملکونو نه لږ اروپاي توکي هم دلته راوړل کیږي چې د فرانسې پلنه کپړا، قاشوغې، پنجې، وړوکې هنداري او انځورونه و. خود دې توکو بیه ارزانه وه او ښاي چې د دوي غوښتنه دومره ډېره نه وه.
د هراتو پولیس ډېر په انصاف کار کوي. او انتظام یې ډېر ښه د. دوه سړي چې د ولس وګړي و، د غلا په تور تورن شول. پولیسو دوي دواړه له پښو وتړل او د یو ګومبد نه یې راځوړند کړل چې د بازار په منځ کې

جوړ و. دا کسان يو ساعت هلته ځوړند پاتې شول او ټولو خلکو ورته په وېره کتل.
زه خپل ځاي ته راغلم نو ځان مې خوندي احساس کړو. خو بيا هم خپلې نغدې پيسې مې د ملا پيټۍ کې پټې وساتلې. دلته مې لږ سره زرخرڅ کړل چې د کابل او د کندهار په پرتله يې ريټ (بيه) ښه و. خو په شپاړسو کې يوه روپۍ يې بيا هم د هند نه کمه راکړه.
يوه ورځ مې خپل سره زرپه فرش اچولي و فکر مې کوو چې ځان له يم. يو شناخته سړې کوټې ته بې تپوسه راننوتو او د دومره سرو زرو په ليدو حيرانه شو. رانه يې پوښتنه وکړه چې زه څه کار کووم چې دومره سره زر مې راټول کړي و. زه وېرېدم خو داسې ښکاري چې يا خو هغه کس ډېرايمانداره و او يا زه د هرات نه زر ووتلم چې څه بد راته پېښ نشول.
خراسان د پارس تر ټولو لويه او په ختيځ کې يوه مهمه صوبه ده چې ډېرانقلابونه يې ليدلي دي."
جورج د هرات په چاې خانو او خوړنځايونو کې د خلکو سره خبرې کولې او معلومات يې راټولول. د خراسان په اړه خپل اورېدل شوې معلومات ورکوي، چې، " خور په پارسي کې وروستي ته واي او دا د پارس ورستۍ سيمه ده" يوه قافله د مازندران يو ښار تورشيش ته روانيده.
جورج دا ځلې بيا د يو مسلمان په حيث د سفرهوډ وکړو اوځان له يو عرب نوم غوره کړو چې د پارس په دې برخه کې خلک د عربانو سره دومره بلد نه و. په افغانستان کې د مسيحي په توګه سفر کې تر ټولو لويه ستونزه ورته دا وه چې د قافلې خلکو ورسره ډوډۍ نه خوړله او دې يې نجس ګڼلو. ليکي،
"د روانيدو نه څو ورځې وړاندې يو افغان سيد زما کوټې ته راغلو. کله چې خبر شو چې زه مسيحي ووم نو خوشاله شو . راته يې ووېل چې د هغه مشران د کافرانو د لاسه ډېر په عذاب شوي و نو ځکه که ما هغه ته ۵۰۰ روپۍ ورنکړې نو دې به مې په زوره مسلمان کړي او سنت به مې کړي. ما هغه سړې خپلو ارميني ملګرو ته بوتلو چې ورسره خبرې وکړي. هغه سيد له ما جزيه غوښتله. يو ارميني چې روانه پارسي يې وېله، ترې پوښتنه وکړه چې د ده غوښتنه څه وه. ده ورته ووېل چې تاسو ټول به هم اوس مسلمان کيږئ او بايد سنت هم شئ.

يو بحث پيل شو او شور زوږ پورته شو. سيد د خپل ملاتړ لپاره نورکسان هم راوبلل. هلته نور ارميني مساپرهم و، ټولو ورته بدې ردې وېلې . اخر په معمولي پېسو ورکولو هغه سيد خپله دعوا بيرته واخسته او ولاړو."
د جورج په ليکنو کې ځاې ځاې د هندوانو د شته والي خبره کېږي او دې پخپله هم په دې سيمه کې د دومره ډېرو هندوانو په ليدو حېرانه و.
يو ځاې ليکي، "د هرات په دوو سرايونو کې سل هندوان مېشت و چې زيات يې د ملتان نه ورغلي و. دوي به په پور مال ورکوو او د حکومت لپاره ګټه ورخلک و. خو هلته د پارس د خلکو له خوا ورباندې ظلم کيدو نو ځکه دوي خپلې ميرمنې او ماشومان نه راوستل."د دوي د جامو او کړو وړو په هکله واي، " هندوان کله چې د اټک نه راپورې ووځي نو د شمال د خلکو جامې په غاړه کړي. اوږده کوټونه په غاړه اولوړې ټوپۍ په سروي. په هرات کې يهودان هم شته، دوي قمار بازان دي او په دې بدنامه دي. هم هغسې لکه چې په لوېديځ کې يې نوم بد دې. يهودان او ارميني خپل په دې خصلت دمسلمانانو سره نه يوځاې کېږي."
کله چې جورج د هغه ارميني نه رخصت اخستو نو هغه هم ترينه يې پوښتنه وکړه چې راته ووايه ته په اصل کې څه يې؟ ده ورته رېښتيا ووېل چې زه د مسيحي دين منونکې يم او غواړم چې انګلستان ته ولاړ شم. خو هغه پرې باورونکړو. ورته يې ووېل چې ته يا خو تجار يې او يا جاسوس.

## هرات نه پارس ته

د نومبر په ۲۲ نېټه ۱۷۸۳ م، قافله د هرات نه روانه شوه او دوي د شپې په "الم غفارچشمه" کې ايسار شول. قافله باشي آغا علي نومېدو چې خپله مور، مېرمنه او يو نوکر ورسره و. فوسټرواي چې د اغا علي مورد پارس وه او د افغان مېرمنې په څېر پخپل زوې برلاسې ښکارېده ولې د هغې په شان زيږه نه وه. اغا علي هغوي ته وېلي و چې فوسټرعرب او مشهد ته د زيارت لپاره روان و. د جورج سره د اوښ په کيجاوه د انسان پرځاې د وريژو بوجې باروي.
دوي په بله ورځ ۴ فرسنګ کې " ديهه سرخ " ته ورسېدل چې لږه زمکه يې شنه وه خو نوره ټوله دشته وه. کله چې د قافلې نورخلک خبرشول چې فوسټرد مشهد زيارت ته روان و نود ده درناوې او د حاجي خطاب يې

ورته کوو. دې نورو اروپايانو ته مشوره ورکوي چې په دې لاره دې هيڅوک د مسيحي په توگه ولاړ نشي ځکه دا يوجرم گڼل کېدو.
په ۲۶ نومبر د درې فرسنگ په دشته کی د تېرېدو نه وروسته" پل سکيبو" ته ورسېدل. هلته په يو وړوکي سيند دا پل د خښتو او مسالې نه جوړ و چې اوبه يې جنوب لوري ته بهېدې.
په بله ورځ "کوريان" (غوريان) کې و چې څلور نيم فرسنگ کې يو کلې و. دلته يې بادي ژرندې وليدې. په اړه يې ليکي، "د دې ژرندې وزره د " کينوس" ( ترپال) پر ځاې د جنډو په شان د ټوکر نه جوړ وي".
په غوريانوکې د قافلې خلکو نه کرايه راټوله شوه او فوسټر د يوې بلې لانجې سره مخ شو.
د افغانستان نه لوېديځ ته تلونکي مساپرو يوه رسمي پاڼه لرله چې د پاسپورټ په څېر به کارېدو. جورج سره دا سند نه و نو گمرک ورته ووېل چې د حکومتي پاڼې لرل ضرور و او بې له دې وړاندې نشوتلې. واي چې افسر ته، " په لاس مې پيسې کېښودې نو وې وېل چې مشهد ته د زيارت لپاره روان يې اوهم عرب يې نود تلو اجازه لرې". دې د "وينس" ښار يادوي چې هلته هم د پېسو په زورټول کارونه کيدل.
آغا علي په قافله کې د فوسټر په درناوۍ او شهرت خوښ نشو چې هر چا " حاجي" بللو، نوخلکو ته يې ووېل چې دې نه حاجي و او نه مسلمان. خوخلکو ورته څه وونه وېل. دې ليکي، " څنگه چې زمونږ په ملک کې خلک د سمندري سفر په وخت د بېړۍ د کپتان (مشر) نه سرټکوي هم هغسې په دې سيمه کې خلک د اوښانو خاوند نه شکايت کوي."
په ۲۹ نېټه دوي په اوو فرسنگ کې "چارسرخ" ته ورسېدل چې د اوبو يو کوهې يې لرلو خو په هغې کې دومره اوبه نه وې چې د ټولې قافلې بس شوې وې. په بله ورځ درې نيم فرسنگ کې "تورساله" په دشته کې يوتم ځاې ته ورسېدل چې د کوهي اوبه يې خټيني وې.
د دسمبر په لومړۍ نېټه دوي "کاوس يا کاس" چې په اوو فرسنگ کې يو لوې کلې و، تم شول. دا د هرات ، مشهد او د تورشيش په منځ کې په لوې لاراو د مساپرو گڼه گوڼه پرې زياته وه. د قافلې خلکو دلته ډوډۍ اخسته او ډېر ژر پخې ډوډۍ خلاصې شوې بيا نور خواړه نه پېدا کېدل.
فوسټرد يو کس نه ډوډۍ په بيه وغوښته. ښاي هغه د کلي په ټولو تنورونو وگرځېدو او پيدا يې نکړه. دې يې ترنيمې شپې په انتظار کېنولې واو

اخريې ورته وويل چې ډوډۍ نه وه. بيا تر دريو ورځو جورج د اوبو يا چايو سره پنير وخوړل.
د دسمبر په دريمه په څلورنيم فرسنګ کې "رويي" لوې کلي ته ورسېدل چې ډېرخلک پکې مېشت و. هلته واورې شوې وې او زمکه بل شان ښکاريده خو دوي پکې تم شول.
فوسټر دريو پارسي وانو سره د يوې بادي ژرندې په ښکته برخه کې ايسارشو ځکه هلته ډېرساړه و. ليکي، " هغه درې واړه تکړه اوچاغ و، ساړه يې نه کېدل اود خپلو اسونو لپاره يې خوراک هم پخپله راوړو. دا درې واړه د تيمورشاه د پوځ عسکر وخوهغه له خوا ورته معاش نه و ورکړې شوې. دوي ترې سخت ګيله من و ځکه وتښتېدل او اوس په نيشاپور کې خپلو کورونوته روان و.
په ۵ دسمبر قافله په پينځه فرسنګ کې د " سي ده" کلي ته ورسيده چې دېوال ترې چاپېره و او ورسره زمکې کرل شوې وې. په بله ورځ ۵ فرسنګ کې هم هغسې دېوالي کلې و چې " اشکاره"نومېدو. د قافلې د راتګ سره سيلۍ والوته او ورسره سختې واورې وشوې نو دوي د وړاندې تګ نه پاتې شول.
نورو خلکو يو او بل ځای کې سر پناه پيدا کړو خو فوسټر او د ده په شان مساپرو لپاره ځای نه و. په دې کلي کې يوه کلا جوړه وه او فوسټرد نورو سره د دې کلا دروازه وټکوله. ليکي، " کلا دار نه مو په مينت زاريو په يوې تيارې کوټې کې د ايسارېدو ځای واخستو. هغه راته د سون مواد (بالڼ) هم راکړل. که څه هم ډوډۍ پکې نه وه خو مونږ اورته ناست و. په هغو دريو کسانو کې يو تن ولوستې و او د جامي شاعر د يوسف او زليخا کيسه يې راته پيل کړه. ده په لوړغږ شعر وېلو او غږ يې له پوزې راويستلو. د اشکاره اوسيدونکو هغه وخت د (امام) حسين ماتم کوو. د افغانانو له وېرې د ښار دروازې يې تړلې وې او ځانونه يې وهل ځکه افغانان په دې کار ورباندې ملنډې وهي".
په بله ورځ فوسټرد اغا علي له خلې خبر شو چې د قافلې منزل به اوس نيشاپور وي. ده ته يې وويل چې په تورشيش کې به ورته يابو په کرايه کړي. فوسټر په دې خبره ناهيلې شوځکه اغا علي ترېنه د مشهد لپاره پېسې اخستې وې. خو واي چې د دليل يا د مينت زارۍ هيڅ ګټه نه وه. "

په دې ملکونو کې خلک هم داسې کوي. ده راسره ژبه کړې وه او اوس د ژبې نه اوختې و".
د د سمبر په ۱۰ نیټه ۱۷۸۳ م د واورې طوفان تم شو او د سپیده چاودې پروخت قافله د " رويي" کلي نه روانه شوه. ماښام دوي "هندو باد" ته ورسېدل چې په ۶ فرسنگ کې يو وړوکې کلې او شنې زمکې يې لرلې.
اغا علي د فوسټرنه اوښ واخستو او د تورشيش بازار ته روان شو. نيشا پورد هندو باد په شمال لويديځ کی ۷۰ ميله ليرې و.
دی ليکي، " د افغانستان او د پارس ترمنځ د خراسان د وېش چارې په مکمل ډول پارس ته پريښودل شوې دي. د دې سيمې خلک د افغانانو تابع او په دې خوشاله دي. په دې ورځ مونږ د افغاني عسکرو يوه ډله وليده. دا د تيمورشاه د هغې پوځ يوه برخه وه چې د مشهد د کلا بندۍ لپاره ورغلي وه. دا ښار اوس د نادرشاه نمسي، شاه رخ په واک کې دې"
شاهرخ مرزا د نادر شاه د مشر زوې مرزا قلي زوې او مور يې د سلطان حسېن لور وه. دې هغه وخت د نادر شاه د کورنۍ يوائينۍ ژوندې کس و.
فوسټرليکي، " شاهرخ په خراسان کې ډېر ښه نوم لري او په مشهد کې د نادرشاه ډېره پاتې خزانه اوس ورسره ده. د ده دوه زامن، نادرمرزا او ولي نعمت يو بل سره په جنگ دي. ولي نعمت د سپارو د يوې ډلې پرمټ هرځاې د خلکونه شوکې کوي. دی ښار ته د ورننوتو په هڅه کې دې او د تيمورشاه نه يې مرسته وغوښته . اوس تيمورشاه ورته خپل پوځ وراستولې دې چې مشهد ښار يې محاصره کړې دې.
خو دوي د توپونه کار نه اخلي او اوس يو کال کيږي چې دا ښارمحاصره دې. دوي يوائې د خوراکي توکو رسد ورته بندولو کې کاميابه شوي دي.
اوس د سخت ژمي له کبله افغان پوځ مشهد نه وتلې دې اود مشهد ښاريان ځان له خوراکي توکي راټولوي. د ښار خلک ولي نعمت ته ښېرې کوي چې د شيعه گانو يو سپېڅلې زيارت لرونکي ښارد نيولو لپاره يې سني افغانان رابللي دي".
فوسټرد افغانستان د هغه وخت د پوځ په اړه پورا معلومات راټول کړل اوليکي، " د افغانستان لوې سلطنت ته، چې اوس اوس جوړ شوې دې که نظر وکړئ نود دې پوځ بېکاره ښکاري. دوي هيڅ ډسپلن نه لري، د چا امر نه مني او کاواکه چلند کوي. خلک واي چې د احمد شاه په واکمنۍ کې دوي ډېر تکړه اومنظم و. هغه خپل پوځ ډېرغښتلې او بااختياره ساتلې

و. خو خلک واي چې افغاني عسکر هغه وخت هم مغروره او خبره به یې نه منله. کله چې دې د سیکانو سره جنګېدو، نو د ده ډېر پوځیان ترې تښتېدلي و. هم دا وه چې هغه پنجاب سیکانو ته پرېښودو".
فوسټر د پارس د پوځ په لیدو واي، " په اوس وخت کې د پارس د پوځ په پرتله افغان پوځ ډېر پیاوړې دې. د پارس پوځ مشرنه لري اوعسکر یې د خپل وطن سره وفا نه کوي. دوي د ټوپکو او توپو سره هم زیات بلد نه دي. د نادر شاه پوځ یو وخت بغداد محاصره کړې و چې ډېر کمزورې ښار و خو دوي ونکړې شوچې وې نیسي . د پارس د عسکرو سره یو د رانجو( میچلاک) ټوپک وي او دوي پلې ګرځي. خو په ازربایجان کې د شیروان او د داغستان ځینې پوځیان سپرنګ لرونکي ټوپک ګرځوي چې د ترکانو نه یې اخستي دي."
فوسټرپه ۱۱ دسمبرپه درې نیم فرسنګ کې د "فیجروټ" کلا ته ورسیدو. دې ته څیرمه څو لوې او پراخه کلي و چې دېوالونه یې لرل. په بله ورځ " دوش اباد یا دوخت اباد" ته ورسېدل چې په څلور نیم فرسنګ کې یو پراخ کلې و. دلته هم یوه لویه کلا وه او لیکي، " دا په لوېدیځ کې د تیمور شاه د سلطنت وروستې سرحد و. دلته ورېښم جوړېږي چې د لیرې نه مو ولیدل".
فوسټرچې وړاندې ولاړو نو د ځینو سیمو په اړه لیکي، "دا د خپلواکه افغانانو په لاس کې دي. که دومره پراخه زمکه د یو زړه وراو غښتلي باچا په لاس کې وې نو ټول پارس نیول ورته ډېراسانه کارو. خو تیمور شاه د خپل پلار د زهانت یوه برخه هم نه لري. د ده ځواک هیڅ په سترګونه لیدل کیږي او نه یې څوک احساس کولې شي. د ده د شته منۍ لږې نښې ښکاري. او دا خبرې زه د ځان نه نه کووم بلکه په ټول افغانستان کې د هر چا په ژبه هم دا خبره وه".
په ۱۳ دسمبرپه شپږ فرسنګ کې یو ځاې " کووټ" ته ورسېدل چې د تورشیش سره تړلې یو کلې و. د دې په شمال کې لوې غرونه په واورو پوښلي و. له دې وروستو جورج تورشیش کې یو کاروان سراې ته ولاړو. هلته څو ورځې تم شو او یو کس ورسره مل شو. دواړو دا فیصله وکړه چې فوسټر به ورته اوبه راوړي اوهغه کس به ډوډۍ پخوي. واي، " دا سړې د استر اباد نه راغلې اوخفه ښکارېدو. خو ما ته یې نه ویل چې هلته څه حالات و. ما غوښتل چې د روسانو د حرکت په اړه راته څه ووایي

چې زه يې اوربډو ته ليواله وم. څو ورځې وروستو دې هرات ته ولاړو".
بيا يو ملا سره يې څو ورځې تېرې کړې او د مشهد زيارت کوونکي راغلل نو يو حاجي هغه ملا له کوټې وشړلو.
دفوسټرنه يې پوښتنه وکړه او کله چې خبر شو چې دې عرب و نوپه عربي کې يې ورسره خبرې وکړې. فوسټر راگيرشو ځکه دې په عربي نه پوهيدو نو هغه ته يې يو بله کيسه جوړه کړه. ورته يې ووېل چې دې د کشميرو او د کاروبار لپاره مازندران ته روان و. د خپل امنيت لپاره يې ځان نه عرب حاجي جوړکړې و. هغه حاجي ورته څه وونه وېل اود ځان په اړه يې معلومات ورکړل چې دې هم مازندران ته تلو.
جورج ورته خواست وکړو چې دې به د هغه په سرپرستۍ مازندران ته ولاړشي اودغبرگو پيسو د ورکولوژمنه يې ورسره وکړه.
فوسټر د تورشيش سيل وکړو او واي چې دا ځاې پخوا " سلطان اباد" نومېدو. ورپسې دې مشهد ته ولاړواو ليکي، " ټول ښار افغان عسکرو ويجاړکړې او په کنډوالو اوختې و. په دې ښار کې د ملتان اود جېسلمير د هندوانو سل کورنۍ هم مېشتې وې".
فوسټر د دسمبر په ورستۍ اوونۍ کې مازندران ته روان شو او ليکي چې د مشهد، يزد، کاشان، قزوين او ان چې د کېسپين په ساحلونو د هندوانو شرکتونه ځاې ځاې جوړ دي. په لاره هغه حاجي ترينه په يوه او بله بانه پيسې وهلې. دوي په لاره د خليل اباد ، حاجي اباد، نواب حکوم، درونه، سيمو نه تېر شول او واي په پارس کې ټول کلي ديوالونه لري.
د جنوري په لومړۍ نيټه ۱۷۸۴ م دې په " ټاوړون" کې و. ورپسې د څو ځايونو نومونه يادوي چې " خانه هودي، برجمند، او نصير اباد و.
واي " په لاره مو د نادر شاه د پيلانو هډوکي وليدل چې هغه د هند نه ځان سره راوړي و. وروستو يې د پارس جنوب ته واستول چې په گرمه هوا کې به ښه شي خوهلته ټول مړه شول" د جنوري په اتمه دې " شاه رود" ته ورسېدو چې بوستان هم نومېدو. هلته سخت ساړه و چې په پارسي کې ورته " ضرب زمستان " واي. دې ليکي. "په ټول پارس کې روسي اوسپنه خرڅېږي اوهرځاې د دې اوسپنې سيخونه ايښي وي".
په ۱۷ جنوري "ديهه ملا" ته ورسېدل او نورې قافلې يې وليدې چې د پارس کتان پرې باروواو نورو ځايونو ته د خرڅولو لپاره وړل.

فوسټرليکي، دلته خلک د خوارږو لپاره د بورۍ (چيني) په ځاى دانګورو او
د انارو شيره کاروي.
په ۱۸ جنوري دوي تاک (طاق) ته ورسېدل چې په دمغان کې و. ورپسې
"کلاتو، کلافر، هزارجريب، چالو او اخر يې د مازندران غرونه وليدل.
فوسټر واي چې هلته مې د روسانو په اړه دومره پوښتنې وکړې چې ځينې
خلک راباندې شکمن شول. چا ويل چې زه روسې وم ، د تاتاريانود زندان
نه تښتېدلي او اوس بيرته خپل وطن ته روان وم. مازندران د اغا محمد
ښار و.
اخر فوسټرپه يوې بحري بيړۍ کې اززبايجان ته ولاړواوهلته په زردشتي
"اتش ګاه" کې ناست هندو سادوان يې وليدل چې د اورعبادت يې کوو. هلته
يې روسان وليدل چې د اېشيانو په شان ورته ښکاره شول ځکه هغوي
اوږده کميسونه اغوستي و، ملايې هم هغسې تړلي او ږيرې يې ساتلي وې.
واي دوي د اېشيايانو په څيرد لمبا (غسل) بيل ځايونه لري.

## تحليل

د جورج فوسټرد سفر تر ټولو لوې هدف د افغانستان او د پارس په اړه
معلومات راټولول و. د کابل په تخت هغه وخت د احمد شاه ابدالي زوې
تيمورشاه ناست و. د پنجاب ډېرې برخې د سيکانو په لاس کې وې خو
لاهور د افغانانو له خوا اداره کېدو.
ده د خپل سفر نه وړاندې لږه پارسي او هندي ژبه زدکړې وه او د
افغانستان خاورې کې يې د پېښورنه تر کابل ځان د يوعام مسلمان په توګه
ورپېژندلو. د دې لپاره چې څوک پرې شکمن نشي نو په پېښور کې له
ښاره بهر په يو زاړه جومات کې ايسار شو او ځان يې د چارواکو نه پټ
وساتلو.
د دې يون ليک ځانګړتيا دا ده چې ولوستونکي د ځانه سره هغه زماني ته
وړي. د هغه وخت د قافلو يو انځور زمونږ په وړاندې جوړېږي او د ژوند
هغه وړې خبرې چې د تاريخ ليکونکو ورته پام نه وي، راته ښاي.
ده د ځايونو نومونه په تفصيل ليکلي دي خو يواځې د مهمو خلکو نومونه
راښايي. مونږ نه پوهېږو چې ده هر ځاى خپل ځان په کوم نوم ورپېژندلو.
دا هغه وخت و چې د انګلستان سيالي لا د روس سره نه وه پيل شوې خو

بیا هم جورج هر ځای کې د روس او د هند تجارتي مالونه له نظره تېروي.
په افغانستان کې د مذهبي ازادۍ په اړه دي پخپله هم حېرانه پاتې کېږي
ځکه هغه وخت انګرېز مسیحیان د نورو مذاهبو په اړه پخپله سخت
متعصب و.
په دې یون لیک کې د افغانانو د کرېکټر نه خبرېږو چې په ځان غاور دي
او د پارس په پرتله د خپلې خاورې او وطن سره مینه لري. د دې سره ره
مونږ د افغانستان د زوال نښې هم وینو چې تیمور شاه خپل ملک بې
سرپرسته پرېښي دې او هیڅ پوځي فعالیت نه کوي. په یو ځای کې هم
مونږ د نوي جوړښتونو نښې نه وینو چې دا نوې هېواد پخپلو پښو ودرېږي.
له بلې خوا خلک ارامه دي، د خواړو توکي پکې ډېر او ارزانه موندل
کېږي او له دې کبله د نورو نژادونو خلک پکې خوشاله و.

دا کتاب د برتش لایبریري د نایابه کتابونوپه برخه کې ایښي دې.

A journey from Bengal to England through the Northern part of India, Kashmir, Afghanistan, and Persia And into Russia, by the Caspian sea. By George Forster in the Civil Service of the Honourable The East India Company.
In Two Volumes 9 Vol 1)
London Printed for R. Faulder New Bond Street
1798